هېڅوک نشته چې ګناه وکړي، بيا پاڅيږي، ځان پاک کړي او بيا لمونځ وکړي، بيا له الله جل جلاله څخه بخښنه وغواړي، مګر دا چې الله به هغه ته بخښنه وکړي

له علي رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: زه داسې يو سړی وم چې کله به مې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه يو حديث واورېد نو الله به چې څومره غوښتلي و ماته به يې پرې ګټه راورسوله او کله به چې هغوی ماته يو روايت بياناوه نو ما به قسم ورکاوه، نو کله به يې چې راته قسم وکړ بيا به مې پرې باور وکړ، او يقينا چې أبوبکر راته حديث بيان کړی او رښتيا يې ويلي، وايې چې ماله رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «هېڅوک نشته چې ګناه وکړي، بيا پاڅيږي، ځان پاک کړي او بيا لمونځ وکړي، بيا له الله جل جلاله څخه بخښنه وغواړي، مګر دا چې الله به هغه ته بخښنه وکړي»، بيا يې دا آيت ولوست.{وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ} او هغه کسان چې کله څه بد کار وکړي، يا پر خپلو ځانونو (بل) ظلم وکړي (نو) الله ياد کړي، (او) وريسې د خپلو ګناهونو لپاره بخښنه وغواړي،[آل عمران سورت: 135 آيت].

[صحيح دی] [ابو داود، الترمذي او النسائي په الكبرى كې او ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې کله يو بنده کومه ګناه وکړي، بيا په ښه توګه اودس وکړي، بيا پاڅيږي او له نومورې ګناه څخه د توبې ويستلو په نيت دوه رکعته لمونځ وکړي، بيا له الله څخه بخښنه وغواړي، مګر دا چې الله به ورته بخښنه وکړي. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم د الله تعالى دا وينا ولوستله: {والذين إذا فعلوا فاحشة أو ظلموا أنفسهم ذكروا الله فاستغفروا لذنوبهم ومن يغفر الذنوب إلا الله ولم يصروا على ما فعلوا وهم يعلمون} (او هغه کسان چې کله دوی کومه لويه ګناه وکړي يا په خپلو ځانونو ظلم وکړي، نو الله ياد کړي او د خپلو ګناهونو لپاره بخښنه وغواړي او څوک دی چې له الله پرته ګناهونه وبخښي او بيا استمرار نه کوي پر هغه ګناه چې کړې يې ده، حال دا چې دوی پوهيږي (چې مونږ ګناه کړې ده). [آل عمران سورت: 135 آيت].

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65063